ليکونکي : ما تيو ايکان

منبع اودخپريدو نيته : انفارميشن کليرنگ هوز «۲۰۱۵-۹-۹» .

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام (مل)

-------------------------------------------------------------------

# دامریکی دمتحده ایالاتو ځانګړی قوتونوکوم چی په افغانستا ن کی هغه ولګردی قانون شکنی اوقتلونه چی ترسره کړی دی - آیا اُردو(پوځ)کولای شی چی هغه پټ وسا تی .

## *US Special forces may have gone on a Murder spree in Afghanistan – Did the Army cover up.*




***ما په رنو سترګولیدل چی هغوی زمونږخلک وژل***

*د ا مریکی دمتحده ایالاتو پوځی ځیرونکوپه افغانستان کی دکال له (۲۰۰۱) څخه را په دی خوا بیا له سره د امریکا یا نود نظامی قوتونو په وړاندی د یولړ جنایي جدی اتها ما تو په اړین ځیرنی اوتحقیقات را پیل کړی دی. لکه هغسی چی نیویارک ټایمس تیراونی دیوراپورپه ترخ کی یادونه وکړچی پوځی جنایي مسولینو ته هدایت ورکړ شوی چی دامریکی دمتحده ایالاتو پرځانګړی قوتونو باندی د اتهاماتو دلګولو هغه ټول دوسیي کوم چی هغوی په افغانستان کی په کال (۲۰۱۲) او (۲۰۱۳) کی کم ترکمه (۱۷) غیرنظامیان وژلی دی له سره*

دکتلو اودځیړلو امر صادر شوی دی . پوښتنه اوس دلته دادی چی ددوسیو
بیا دسره تحقیقات وروسته له دی اوږد مودی څخه دڅه دپاره؟ سره دهغه چی
دهغی وخت پوځی غړی او منسوبین پرهره پیښی باندی برغولی ایښی وه .



ذکریا نورزی دامریکی دځانګړی قوتونو دپاره دکال (۲۰۰۳) څخه را په دی خوا
ژباړونکی

دغه متکبر او ولګرد دجګړی دمیدان په مینځ کی دافغانی سرتیرو سره یو ځای په تکرار سره د بشر حقونه (طالبانو لا یوڅه زیات ) پایمال کړی دی لکه د وردک ولایت دنرخ په اولسوالی کی په کال (۲۰۱۲) هغه قتل عام او کشتا ر به د تولو په یاد کی وی چی دغه قهرجن امریکایی سرتیری بی له کوم مخکینی اطلاعیه اویا د کوم لوړ پوړی مقام د هدایت څخه پرته پخپل سردخلکوپه وژلو لاس پوری کړل یا د قندها ر دولایت به پنجوایی کی بریدمن رابرت بالیس (Robert Bales) په یوه شپه کی (۱۶) بی ګناه ملکی افغانان یی دهغوی په کورونو کی په قتل ورسول یا په ارغنداب کی هغه غیر مسلح افغانی تولګی سرتیری چی د همدی وحشی امریکا یی سرتیری پواسطه سره لمړی په قتل ورسیدل اوبیا یی دهغوی دبدن اندامونه یی پریکړل شو .

دوردک دولایت دنرخ په سیمه کی پیښه دیو ماهراوباتجربه امریکایی جزوتام دهغوی ادعا سره چی مونږ دسیمیزو شورشیانو سره په نښته کی وه رامینځته شو او دغه پیښه څو څو واری د امریکی د متحده ایالاتو د څیړونکو له خوا په یو رقم اویا بل رقم سره څیړل شوی او دپیښی عاملینو ته بری الذ مه ورکړی یا د هغوی پر ناروا اعمالو باندی برغولی ایښی دی تر هغه چی دملګرو ملتونو دبین المللی سره صلیب له خوا پیښه په هر اړخیزه توګه څیړل کیږی اود دڅیړل شوی پایلی د یو راپور په بڼه د جولای په میاشت کال (۲۰۱۳) کی په نشر رسیږی .

هغسی چی ما دکال (۲۰۱۳) درولنګ ستون (Rolling Stone) دقتل عام اویا دوژلو

دپیښې د څیړلو څخه تر لاسه کړ ما ته د اسې څرګند شو چې دغه پیښه د امریکې دمتحده ایالاتو د الفا (۳۱۲۴) نظا مي جزوتا م پورې تړلې د ځا نګړې قوتونو د دریم کنډک له خوا دیوعملیات په ترڅ کې د وردک ولایت د نرخ په سیمه کې د منې کال (۲۰۱۲) اود مارچ د میا شتې (۲۰۱۳) کلونو په مینځ کې را پیښه شوې دې .



**دافغان لیدونکو په وینا سره دغه د سید محمد جسد دامریکې دمتحده ایالاتو دځانګړې قوتونو د قرار ګاه څخه دباندې میندل شوی دی**

دغه (۳۱۲۴) نمبر دالفا نظا مي جزوتا م د سیمې دخلکو دپرله پسې تظاهراتو اودهغو دا دعا ګا نو له مخې کوم چې دغه امریکایي نظامي ځا نګړې قوتونه زمونږ.خلک ،وژني ـ ترشکنجې لاندې نیسي اویا یې ترې تم کوي دافغانستان جمهور ریس حا مد (کرزی) مجبور کیږی چې دهغه سیمې د خلکو غوښتنې ومنې اودا مریکې دغه جزوتام دوردک دولایت څخه اوباسي ـ دیادونې بل وړ مطلب دا چې وروسته له هغه کوم چې دغه دامریکې دمتحده ایالاتو د الفا (۳۱۲۴) جزوتام له سیمې یا له وردک ولایت څخه ویستل کیږی نو دهغو دقرار ګاه څخه دباندې قبرونه تر سترګو کیږی چې په اغلب ګمان سره ممکن دهغو لسو ورک شوی افغا نا نو مړی او قبرونه به وی چې دهمدې امریکایانو

پواسطه سر مخکی بند یا ن شوی وه .
دیو لنډ مودی څخه وروسته د (۲۱۳۴) امریکایی نظامی جزوتام دیورسمی سرچینی په یوه رانیول شوی ویدو کی سیدمحمد دهغه لسو لادرکو افغانانو له جملی څخه ترسترګو کیدل چی تروهلو ټکولو لاندی ښکاریده - افغانی ترجمان کوم چی دذکریا په نوم سره یادیدل ،هغه دافغانستان داطلاعاتی امنیتی خد ما تو داداری له خوا په کال (۲۰۱۳) دسپتمبر په میاشت کی ونیول شو ا ودپلچرخی په زندان کی بندی شو، نو ما په دی وخت کی دخپل تحقیقا تود تر سرته رسولو دپاره می دهغه سره د پلچرخی په زندان کی له نژدی ولیدل او ما دهغه سره مصاحبه وکړ- ما دمصا حبی په جریان کی هغه ډیرصریح سړی وموند هغه دذکریای قندهاری په مستعما ر نوم ځا ن نوروته معرفی کړی وه حال داچی دهغه اصلنی نوم **ذکریا نورزی** وه او هغه خپل دغه اصلی نوم پخپل مټ کی په شین رنګ با ندی خالکوبی کړی وه .
د ا مریکی د متحده ایالاتو د نظامی مسولینو سره په افغانستان کی د ذ **کریا** داړیکی د پیل څخه افغا نی رسمی مسولو مقا ما تو ته داشک اوګمان پیدا شوی وه چی **ذ کریا** دامریکی یو تابع او شهروند دی او هغه دنورو افغانی ترجمانانو سره په ګډه دیو مین پاکی په خیریه موسسه کی کارکوی کوم چی د غه خیریه موسسه د (سی آی ای ) دشبهه نظامی دیپارتمنت پوری اړه لری .
ذکریا اودوه نور ژباړونکې دالفا دعملیاتی ټولګی (۳۱۲۴) نظامی جزوتام اوبیا دهغه دیویژن ځانګړی قوتونو ته په مختلفو وختونو کی مختلف اوراز راز فعالیتونه تر سره کول **ذ کریا** په یوه خبری نا سته کی راڅرګند کړ چی دا ځما دریم ځل دی چی زه ددی ځانګړی قوتونو د فرماندی له طرفه کوم چی ما له مخکی پیژنی له خپل دندی ګوښه کیږم او یا راته تنزیل د مقام راکوی هغه یعنی **ذکریا** دخپل خبرو په دوام کی وویل چی زه دامریکی د متحده ایالاتو شهروند هم نه یم .
زما مرکه اودافغان دڅیړونکو اودتحقیقاتو جریان دذکریا سره پای ته ورسیدل اودهغه څخه مودا پایلی ترلاسه کړچی ښاغلی ذکریاپخپل څرګندونوکی ټینګار وکړ چی دنرخ دقتل عام مسولین دامریکی دمتحده ایالاتو ځانګړی قوتونه نه دی یعنی هغوی یی بری الذ مه وښودل اما د سید محمد دوهلو اود ټکولو په اړه اعتراف وکړ هغه وویل چی څو ورځی دمخه ځمایو ملګری دسړک دغاړی

په بمب سره صدمه وموندل اوزه له همدی وجهی څخه ډیر حساس اومتاثر اوم نو له دی کبله ما پر سید محمد باندی په څو کو او لګدو باندی وار و ګذار وکړ هغه یعنی **ذ کریا** ما ته وویل :ما سید محمد دهمدی نظامی جزوتام قرار ګاه ته راوړ او دځانګړی قوتونومسولینو ته می ور وسپارل هغوی ماته وویل هوکی تا هغه یعنی سید محمد دلته راوړ وروسته له هغه ما دسید محمد پر سر با ندی یو شنه بیری خوله کیښود اما وروسته ما د هغه جسد په یوه جوال کی ولید .

سربیره پر هغه مجازاتو کوم چی ذکریا ته د نرخ دپیښی په اړه افغانی محکمه ورکړی وه دهغه ځای ګڼ شمیر خلکو ماته وویل چی ذکریا هغه یواځنی کس دی اوموږ پخپلو سترګو ولید ل چی هغه د نرخ خلک وژل ـ ترټل اوپه جبر سره له نرخ څخه شړل - دبلی خوا څخه داسی په نظر راتلل چی دهغه قضیه کوم چی د افغانی مقا ما تو پواسطه سره ترڅیړنی لاندی وه هڅه کیدل چی دڅیړنی اودبررسی دهیات نظر دحقیقت دمیندلوڅخه بل خواته واړول شی .

دهغه اودهغه دوکیل دوینا په حواله له دی نه کوم چی هغه یعنی **ذ کریا** د امریکی د متحده ایالاتو د نظا میا نو سره کار کول د افغانستان د عا لی دیوان له خوا پر هغه باندی د خیانت اوداتهام په واردولو سره داګست په میاشت کال (۲۰۱۴) کی د(۲۰) کالودبند سزا واورول شو-دبلی خوا څخه **دذکریا** د کورنی دیو غړی په قول هغه یعنی **ذکریا** په دی وروستو میاشتو کی دبګرام زندان ته انتقال ورکړ شوی کوم چی دغه زندان یا محبس د دسمبر میاشت کال (۲۰۱۴) کی دافغانستان تر پوره کنترول لاندی راغلی دی یعنی دغه زندان مخکی دامریکایانو تر ولکی لاندی وه .

نجلا راحیل دذکریا مدافع وکیل داسی څرګند کړ او وویل: هغه جزا چی دافغانستان علی د یوان ځما موکل **ذکریا** ته اورولی دی په بشپړه بڼی سره یوغیر عادلانه پریکړه دی او داځکه چی نوموړی دیوان او حتی د افغانستان داطلاعاتو اداره هم کوم مستند شواهد په لاس کی نه لری چی ذکریا د نرخ خلک وژلی وی ، هغه د خپل خبرو په دوام کی زیا ته کړ که چیری د **ذ کریا** قوماندان یادهغه آمر هغه ته هدایت ورکړی وی چی د نرخ د خلکو په وژلو لاس پوری کړی ایا یو ترجمان په یواځنی توګه سره کولای شی چی دومره قتلونه ترسره کړی ؟

ځما د (۲۰۱۳) کال قصی اوداستان دنوی لیدونکو اودسترګو حال دلیدونکو

دمشاهداتو اودهغو دادعاگانو اوځما د رانیول شوی فوتو گرافی اودآنځورونو دڅیړنی په پایله کی داسی لاسته راوړنی می ترلاسه کړچی دغه لاسته راوړنی دهغه دټولو جزیاتو سره په لاندی توگه سره لنډیزوم :

دهغو لسو کسانو له جملی څخه یواځی (۹) کسانو داکټرو لیدونکو اومشاهده کونکو اودهغه ځای د کلی د خلکو په رڼا ا چونی سره کوم چی ما دهغه پایلی ترلاسه کړ هغه دادی چی دغه شمیرتری تم شوی خلکو لمړی دامریکی سرتیرو پواسطه سره نیول کیږی اودهغه ځای دخلکو دوینا پربنیا د دغه رانیول شوی خلک دهغو اودهغو دترجما نا نو له ځوا شکنجه کیږی اوبیا زندان ته لیږل کیږی – هغوی دغه خا ص شکنجه ورکونکی خلک ما ته په هغه انځورونو کی چی ما پخپله د نوموړی (۳۱۲۴) نظامی جزوتام د منسو بینو عکسونه رانیولی وه اوهم هغو انځورونه چی می دګوګل اودفیس بوک له ویب پانوڅخه جمتو کړی وه په گوته کړل .

دبشر دحقونو دهیڅ یو مورد څخه دسرغړونی په اړین هغوی څه شی په ډاګه ونکړ اوله همدی کبله ډیر ستونزمن ښکاریده چی پرهغه ځیرنو باندی بشپړ باور وشی اما هغه یواځنی منبع کوم چی ددی خلکو د وژلو په اړه یو بشپړ راپوررا چمتو کړ هغه د ملګرو ملتونو دبین المللی سازمان اودهغه دسره صلیب دسازمان را پور دی چی خپل تهیه کړی شوی گذارش بی له دی چه د مید یا دلاری دعا مه خلکو دپوهاوی دپاره په نشر ورسوی په ځانګړی بڼی سره دامریکی دمتحده ایالاتو نظامی مسولینو ته وروسپارل هغه راپور کوم چی دجولای میاشت کال (۲۰۱۳) کی چمتو شوی وه درویتر او دټا یم دراپور سره پوره ورتوالی لرل .

دیو بیشمیره مثالونو په نظر کی نیولو سره ځنی انفرادی خلکو هم هڅه کول چی دامریکی دمتحده ایالاتودځانګړی پرقوتونو باندی کوم چی دوردک دولایت دنرخ په سیمه کی پر خلکو با ندی تیری کړی – خلک یی ترتلی او شکنجه کړی دهغو ازاتهما تو ته غوږ ونیسو په هرصورت زه په همدی وخت یعنی په کال (۲۰۱۲ ) په نرخ کی اوم اودهغه ځای حالات می څارل – په دی وخت کی د یو سړی سره آشنا شوم چی هغه قندی نومیده اودهغه په قیاس سره د (۵۵) کلنو سړی وه او هغه دامریکی د متحده ایالاتو په وردک کی د میشته ځانګړی قوتونو پواسطه سره نیول شوی اوبندی وه اوبیا دبگرام جیلخانی ته

انتقال ورکړ شوی وه هغه یعنی قندی داکتوبر دمیاشتی په (۱۲) کال (۲۰۱۳) کی بلاخره د زندان څخه خوشی شول اوتیره هفته ما سره مرکه وکړ هغه مخکی له دی چی بندی شی د وردک په ولایت کی د اطلاعاتو اود کلتور په وزارت پوری تړی په یوه شعبه کی د تحویلدار دنده پرغاړه لرل اود خپل وظیفی ځای ته په با یسکل سره تګ اوراتګ کول هغه وویل چی زه دهمدی امریکایی ځانګړی قوتونو اودهغو دترجمانانو په حضور سره کوم چی **ذکریا** هم موجود وه دنومبر په (۱۲) کال (۲۰۱۲) کی دخپل له کوره ونیول شم – هغوی ماته ډیر شکنجه راکړ یعنی ووهلم وټکولم پرما باندی جنسی تیری وکړ اودبرق په ورکولو سره ځما څخه اعترافات واخیست چی ګواکی زه د شورشیا نو سره اړیکی لرم هغوی (۴۵) ورځی دخپل ځانه سره وساتم اوپه لګدو سره ځما پرختوباند ګذار کول وروړسته بیا زما خوتی اواله تناسلی په یوه پلاستګی رسی سره ټینګ وتړل اوتر (۸) ورځو پوری ځما خوتی تړلی پاتی شو چی دهغه له سببه ما ډیر درد په خپل ګیډه او مثا نه کی احسا سول اوډیر په تنګ راغلی اوم .

قندی په ښکاره بڼی سره وویل چی امریکایانو زما په مخکی سید محمد او ځنی نور بندیان شکنجه کول اوتر هغه وخته پوری یی وهل اوټکول چی هغوی مړ شی – هغه زیا توی کله چی زه ددرملنی دپاره یوی خیمی ته راوستل شم نوپه همدی وخت کی امریکایی سرتیری سید محمد یی هم همد لته راوړ اوځما په مخکی پر هغه باندی وار وګذار وکړ تر هغه چی سید محمد ځما په مخکی ساه ورکړ او په حق ورسید - په همدی وخت کی یو امریکا یی سرتیری زه د سید محمد پرتوی شوی وینو باندی تیل ووهلم او ټول جامی می د سید محمد په وینو سره ککړشو . کوم چی وروسته بیا د می په (۲۱) کال (۲۰۱۳) کی تایم پخپل ګذارش کی لیکلی وه چی د سید محمد مړی د ځانګړی امریکایی قوتونو دقرار ګاه څخه دباندی د وردک ولایت دنرخ په سیمه کی وموندل شو .

قندی دخپلو خبرو په دوام کی وویل چی زه اوماسره نور بندیان دیو افغانی ښیځینه ډاکتر پواسطه سره درملنه کیدو کوم چی هغه داکتره دهمدی امریکایی سرتیرو سره په انګلیسی ژبه ګړیدل اوداسی انګیرل کیدل چی ممکن هغه ښیځینه داکتر د همدی ځا نګړی امریکایی قوتونو پواسطه سره استخدام شوی وی. قندی دخپل خبرو په دوام کی زیاته کړچی زه یوه ورخ پاک پریمنځل

شم راته ستره او پاک جامی واغوستل شو او د یوه هلیکوپټر پواسطه سره دلته دبګرام زندان ته راوستل شم اوځما په سینه کی ځما د بندی توب نمبر وځړول چی شمیر یی (۵۷۹۴) نمبر وه. قندی وویل چی زه دلته بی دکوم تبعض اوسوؤ استفادی څخه درملنه کیدم اوما سره هیڅ بد رفتاری نه دی شوی هغه یعنی قندی خپل دواړه ځیرونکو ته یعنی هم د خپل د امریکایی اوهم دبین المللی سره صلیب دتحقیق هیات ته په ښکاره توګه وویل چی زه په نرخ کی دامریکایی سرتیرو پواسطه سره ډیر شکنجه شوی اورټل شوی یم اوهم دنرخ نور خلک می پخپل رنږو سترګو لیدلی چی دهمدی امریکایی سرتیرو پواسطه سره وهل شوی – ډبول شوی – رټل شوی او ترهغه وخته پوری وهل شوی چی یی ساه ورکړی لکه دسید محمد په شان کوم چی هغه ځما په مخکی ساه ورکړ او په حق ورسید.

که دقندی په وینا سره پر دغه امریکایی ځانګړی سرتیرو باندی لګول شوی اتهامات رینښتیا وی نو دلته داسوال پیدا کیږی چی څرنګه کیدای شی اویا څنګه ددی امکان وړل کیږی چی یوه وړه نظامی ټولګی بی له دی چی هغو ته دهغو قوماندان هدایت نه وی ورکړی اوحتی تردی چی په بګرام کی شاهدان هم تبدیل شوی ونه اوسی – دغه وړه ټولګی وشی کړی چی دا دومره دروند دنده ترسره کړی؟

دامریکی دمتحده ایالاتو پرځانګړی میشته قوتونو باندی چی په نرخ کی اوسیده دهغه لګول شوی اتها ما تو په لړ کی دافغانستان دولت دامریکی دمتحده ایالاتو څخه وغوښتل چی دغه لګول شوی اتهامات دځلورو میاشتو په موده کی وڅیړی او په دی برخه کی خپل ګذارش افغانی مقا مات ته ور وسپاری نودهمدی اصل په پیروی سره دامریکی دمتحده ایالاتو دځا رنی اود څیرنی یو هییت دلګول شوی اتهاماتو دمعلومولو دپاره دری ځلی خپل ځانګړی اوبیلابیل تحقیقات دنومبر میاشت کال (۲۰۱۲) کی پیل کړ اوپه همدغه دری ځل تحقیقاتو کی خپل سرتیرو ته بری الزمه ورکړ یعنی ټول لګول شوی اتهاما ت یی له یوسره رد کړل. په دغه موده کی کم ترکمه پنځه نور افغانان دنرخ په سیمه کی دهمدی ځانګړی نظامی امریکایی سرتیرو پواسطه سره بند یا ن او وروسته له څه مودی څخه لادرک اوتری تم شول.

دریم ځل تحقیقات دافغانی اودامریکایی ګډ څیړونکو له خوا دمارچ میاشت

کال (۲۰۱۳) کی پیل شو دامریکای هییت په راس کی جنرال میخایل ال هاورد (Mecheal L Howard) گمارل شوی وه اوما کله چی ددی گډ تحقیقا تی هییت د افغانی اودامریکا یی د ځنو شا ملو غړو څخه معلومات تر لاسه کړ هاورد هغسی یو سړی وه چی دحیقیت د موندلو په لټه کی نه وه اوزیار ایستل چی امریکایی سرتیری بی گناه و ښیی او ټول تهموتونه یی پرذکریا باندی وغورځول شو کوم چی هغه تقریباً دوه میاشتی مخکی له بندی کیدوڅخه آزاد وه او ټول دغه کړنی هغه تر سره کړی دی .

دیادونی یوبل مطلب هغه داچی کله چی جنرال میخایل هوارد (M.Howard) دلګول شوی اتهاماتو په اړه تحقیق ترسره کول قندی په محبس کی بندی وه او هغه دخپل سترګی لیدلی حال نوموړی جنرال ته داسی بیان کړ چی همدغه امریکایی ځانګړی قوتونه په نرخ کی خلکو ته شکنجه ورکول – خلک ترټل اودمرګ تر پولی پوری وهل او ډبول زه دهغو شاهدانو له جملی څخه یم چی پرما هم همدغسی حال تیرشوی او ماهم پخپلو سترګو دهغوی دغه غیرانسانی کړنی لیدل دی بل داچی په همدی وخت کی ښاغلی ذکریا لا بند ی نه وه او دهغه نه شلیدوړنکی اړیکی دهمدغه امریکایی سرتیرو سره وه کوم چی دهغه اثبات کیداشی دهغه فیس بوک وی چی هلته په همغه تاریخونو کی پیامونه په نشر رسولی دی .

ښاغلی میخایل هوارد لکه ددوه مخکینی تحقیقاتو په څیر پر موضوع باندی داسی رڼا واچول چه نه امریکایی سرتیری اونه هم د ایسا ف قوتونه د وردک ولایت په نرخ کی نه کوم بندی یا محبوس ترټلی – نه شکنجه کړی اونه هم په مرګ محکوم کړی او د دی رنګ ادعا ګا نو د پاره کوم چی په نرخ کی دامریکایی سرتیرو پواسطه سره خلک شکنجه شوی اوسی کوم رغنده اومستند دلیل اوشواهد په لاس کی نشته داخبره ماته کریشتن(Col Chrichton)داکتوبر میاشت کال (۲۰۱۳) کی څرګند کړ.

دحیرانتیا خبره دلته دادی چی ولی دامریکلیی څیرونکو دهییات دری ځلی تحقیقات په شمول ځما ونشو کړلی چی دڅیړنی څخه پوره معلومات تر لاسه کړی اما د ملګری ملتونو اود بین المللی صلیب سرخ څیرونکو وشو کړلی چی حقیقت را په ګوته کړی ؟ نوله دی دری متناوب ناکامی څخه داسی را څرګندیږی چی امریکایی نظامیان مخکی له وخته پوه کړ شوی وه چی له

حقیقت ویلو څخه ډېره وکړی اویا پر را رسید لی اطلاعا تو با ندی برغولی کیږدی اوخپل ځان بی پروا وښیی ؟ او داسی قبوله کړی چی دا یو جنایی موضوع دی او د حقیقت یابی دپاره کافی وخت ته ضرورت لیدل کیږی .

په هرصورت دجولای په میاشت کال (۲۰۱۳) کی وروسته له هغه چی دامریکی دمتحده ایالاتو دعملیاتی الفا څانګه (۳۱۲۴) دوردک ولایت دنرخ څخه ووتل په افغانستا ن کی د امریکی د متحده ایالاتو نظامی جنرال جوزف دنفورد(Joseph Dunford) د نظامی برخی جنایی څیړونکی کمیټی ته دستور صادر کړ چی دنوی او دمخکینی ناحل شوی لګول شوی اتها ما تو د حقیقت د موندلو دپاره چی دهغه ګذارش د ملګرو ملتونو دسازمان اود بین المللی سره صلیب له خوا ګذارشات تر لاسه شوی دی په هراړخیز بڼی سره و څیړل شی ګرچه دغه تحقیقا ت کوم چی د (CID = جنایی اطلاعاتی دیپارتمنت) له خوا ترسره کیږی ممکن چی په مستقیم او په مستقلانه بڼی سره ترسره شی اما پوښتنه دادی او هغه داچی کله چی ددی څیړنی څخه پایلی تر لاسه شی آیا ددی امکانیت لیدل کیږی چی بالاخره دغه راپور همغه مقام ته داخری پریکړی د صا درولو د پاره ور وسپارل شی ؟ چی مجرمین ترقانونی څارنی لاندی ونیسی او یا که نه ؟

جنایی څیړنی د موظف جنایی څیړونکی هییت په واسطه سره ډیر ورو پیل اوپه ډیر چوپتیا کی ترسره شو حتی تر دی حده پوری چی په نرخ کی دهغه پیښی له شاهدانو سره چی ما دخپل قصی دسرته رسولود پاره ورسره د نومبرمیاشت کال (۲۰۱۳)کی می مرکه کړی وه دهغو شاهدانو دیوه شاهد سره دغه دجنایی څیړونکی هییت د دسمبرد میاشتی کال (۲۰۱۳) تروروستیو وختو پوری لیدنه اوکتنه نه وه کړی دغه مطلب ماته دملګرو ملتونو یو استاذی کوم چی هغه دنوموړی جنایی هییت دغړو سره پوره شناخت او آشنایی درلود وویل اوپه ضمن کی یی زیا ته کړ چی دڅیړونکی دهییت مرکه په نرخ کی دپیښی دځنو شاهدانوسره دملګرو ملتونو پوری مربوط په یو انګړ کی دویډو دلاری پواسطه سره تر سره شوی دی .

دملګرو ملتونو دیو پخوانی استاذی په وینا سره دغه مرکه د مرکه کونکو سره د(۲۰۱۴) کال په اوایلو کی پیل اود همغه کال داګوست په میاشت کی تکمیل اوتر سره شو ، د یادونی مهم خبره داچی د موظف تحقیقاتی هییت په

قول سره د نوموړی موضوع د څیړلو په جریان کی یولړ نوی معلومات او اطلاعات ترلاسه شو کوم چی دهمدی تازه معلوما تو دلاسته راتلو په رڼا کی ددی ضرورت ولیدل شو چی نوموړی موضوع لا پسی ډیر ژور او هر اړخیز و څیړل شی داهغه مطلب دی کوم چی د همدی جنایی څیړوکی د هییت ویاند ښاغلی کرستوپر ګریی(Christopher Grey) وویل : د قضیی یا د موضوع له سره بیا د کتنی ضرورت دځنی دلایلو په نظر کی نیولو سره باید ترسره شی هغه زیاته کړ چی مونږ ځان پوره متعهد ګڼو چی دغه موضوع دهغه دټولو جوانبو اودیو لړ نوی معلوماتو دلاسته راوړنی دپاره تر هغه پوری چی مونږ پوره باور مند کړی نه وی دپیښی دوسیه باید ونه تړل شی .

دڅا بت او ریښتیا نی څیړنی ګډوډول یا سره مخلوط کول ددی دپاره چی عدالت تامین شی کوم چی آیا په نرخ کی خلکودامریکایی د سرتیرودبوږنونکی کړنی پواسطه سره وژل دی ا ویا نه؟ داپخپله هغه جنا یی جنګی جنایا ت دی کوم چی امریکایانو پخپله دخپل منسوبینو په وړاندی په افغانستان اوعراق کی لګوی . یعنی همدغه امریکایی سرتیری ناقضین حقوق بشر اودجنګی جنا یا تو مسول کسان دی .

په کال (۲۰۱۴)داګوست په میاشت کی دبځښنی بین المللی سازمان یا امنیستی په افغانستان کی دامریکی دمتحده ایالاتو د عدالت اودقضاوت پر سیستم باندی یوه مښوطه راپور په نشر ورسول کوم چی په دی راپورکی داسی په ذکر رسید لی چی په افغانستان کی دیو ثابت څیړنی په لړ کی لس هغه دقتل قضیی اوپیښی شامل دی کوم چی دمعتبرو شواهدو په لرلو سره دغه کسا ن په غیر قانونی بڼی سره دبین المللی نظامیانو له طرفه په عملیا تو کی وژل شوی دی په شمول دنرخ دپیښی سره کوم چی په نرخ کی له (۱۴۰) ملکی کسانو څخه زیات په قتل رسید لی چی له دی جملی څخه (۵۰) کوچنیان وژل شوی اودهغه نور(۹) مړی قضیه دامریکی دمتحده ایالاتو دڅیړنی دخد ما تو داداری پواسطه سره تردقانونی بررسی لاندی نیول شوی اودهمدغه (۹) کسانو د وژلو د عا ملینو د معلومولو د پاره دامریکی دموظف څیړونکی ګروپ د هغه ځای دشاهدانو سره مرکه نه دی ترسره کړی یعنی دتحقیق دغه موظف کمیسیون دهغه ځای د ځایی شاهدانو سره چی هغوی قتلونه چی دچاپواسطه سره ترسره شوی مرکه نه دی شوی .

په بشپړ اوکامل بڼې سره دامریکې دمتحده ایالاتو پرنظامې عدالتې سیستم باندې دنه شفا فیت اود نه قانونې څارنې په اړه کوم چې نظا میا نو نشې کولای چې خپل عدالتې سیستم په شفاف بڼې سره پکار واچوې اویا په قا نونې بڼې سره یې تعقیب کړې دتعجب کوم نوې او وړموضوع نه دی نو د همدې اصل پر بنیاد دبخښینې بین المللې سازمان یا امنیستې دهمدې سیستم دساختار یادهغه دجوړښت دنقض په اړه داسې یادونه کوې :
دغه روش یا رفتار په دې خاطر دپاملرنې وړ بریښې چې یو سیستم پخپله دخپل کړنوپولیس اووسې اود نظامې خپلو قوتونو سره داسې انګیزه را پیداشې چې هغوې یوډیر وړه شخړه او خشونت دفرماندهې دځنځیرې لارې په استفاده سره دځنودلایلودنه موجودیت پربنیاد فرمانده اویا خپل درهبرې مقام ته ګذارش یا راپور وړاندې کړې . دبلې خوا څخه خپله فرماندهانو هم دیو لړ کم دلایلو سره ایا کولای شې چې یوموضوع وڅیړې اویا دڅیړلو د پاره مخکې کړې اوبیا په ځانګړې بڼې سره چې دپیښې عامل پخپله اووسې پر موضوع باندې قضاوت وکړې اویا دخپل دقضاوت پایلې دنورو څخه دسوالونو په طرح کولو سره ترلاسه کړې .
**همدارنګه په دغه ګذارش کې دا اسې یادونه هم شوې دی چې د جنسې تیرې دریښې پرضد کوم چې دامریکایې سرتیرو په صفوفو کې خپل اخرنې نقطې ته رسید لی او د نظا مې عدالت دسیستم په نظرکې نیولوسره بیا هم په مبارزه کې پا تې راغلې اویا د اچې پرامریکایې استخدام شوې ښځو باندې جنسې تیرې صورت نیسې اوبیا دهغه ګذارش په مستند بڼې سره په میډ یا کې خپرېږې پس نو افغا نا ن څه کړې دې چې د جنګې جنا یا تو قربانیان ګرځې؟**
یو افغان چې نعمت الله نومیده هغه په ډاګه وویل چې دلته په افغانستان کې دعدالت اودانصاف هیڅ نښې نښانې نه په سترګو کیږې اوهغه داچې څما دوه ورونه د نومبر دمیاشتې په (۲۰) کال (۲۰۱۲) کې هغه وخت چې امریکایې سرتیرې پرامرخیل باندې دشپې له خوا یرغل وکړ لمړې ونیول وشو او بیا وروسته تیرتم اولا درکه شو نو وروسته له څو میا شتو څخه دهمدې ځانګړې امریکایې قوتونو د قرار ګاه په بغل کې یوشمیر قبرونه پیداشو کوم چې ما هم خپل دوه ورونه وپیژندل چې هغوې دخپل کالیو سره ښخ شوې وه -« نو ته ذکریا یو له هغو څخه یې چې په دې پیښه کې دې لاس درلود اوبل هیڅوک

بی له تا نه وه ».

-------------------------------------------- **په سلامونو سره**